مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۵/۳۰

# لنډۍ او د لنډیو د ثبتولو ستونزه

## دوه دیرشمه برخه

موري! پښتون ته مې ورنه کړې
جنګ به د بل وي، سربه دې پرې ورکوینه

ګل ته چې ګورم وطن یاد شي
تیره ازغي یې ګاونډیان رایادوینه

زه په ښکاره ژړلای نه شم
د پیاز پوټکي اړوم غمونه خورمه

د لنډیو په باب ځېرنه هر کله نوې او اړینه ده، ځکه دا د پښتني فولکلور یو داسې ټوکیدونکی او هره ورځ غوړیدونکی ژانر دی، چې څومره نوی را زرغونیږي، هغومره ټولیدو او نوې کار او نوې ځېړنې ته اړتیا لري.

په لومړي سر کې ما موضوع لنډه را پیل کړې وه، ځکه مې د دې سلسلې مقالو په لومړۍ برخه کې ولیکل چې:

«د لنډیو په باب دغه بحث په څلورو برخو کې وړاندې کیږي. نوې ثبت شوې لنډۍ به د ورستۍ برخې په پای کې راوړل شي. ماخذونه به له نویو لنډیو نه وروسته، د متن د شمیرو له مخې وښودل شي.»

خو څومره مې چې مطالعه او ځېرنه کوله، موضوع نوره هم جالبه او پسې اوږدیده. د کار په ترڅ کې پته را ته ولګیده چې په څلورو څه چې په لسو، شلو او لا سلو مقالو هم بحث نه بشپړیږي، ځکه لنډۍ د فولکلوري ادبیاتو داسې را ټوکیدونکې ځانګه ده چې هره ورځ نوې غوټۍ کوي او بیا نوي ګلان راسپړي، نو مې موضوع تر یو دیرش مقالو ورسوله، چې دا یې دوه دیرشمه برخه ده. که خیر و، د کتاب په بڼه به یې هم درنو لوستونکو ته وړاندې کړم.

د اوس له پاره به په دې دوه دیرشمه برخه کې به هغه یا نوې او یا جالبې لنډۍ وړاندې کړم چې د یو دیرشمې برخې له خپریدو نه مې وروسته را ټولې کړې دي:

په قدمو دې خدای مین کړم
ماته په لویه لار کې کیږده قدمونه

تر دېوال دوې ګوتې سر جګ کړه
د زني خال به دې دېوال وسولوینه

موري! پښتون ته مې ورنه کړې
جنګ به د بل و، سربه دې پرې ورکوینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ستا یارانه د پروړې اور دی
نه پرې تودېږم نه مې زړه صبر کوینه

ستا یارانه اور او اوبه دي
اور مې سېزي اوبه مې ښکته ډوبوینه

ستا یارانه د ونې سیورې
کله په ما کله په نورو خلکو وینه

ستا یارانه د شګو ورخ دی
که چناړونه په کې ږدم اوبه یې وړینه

مینې دې داسې لیونی کړم
پر لارې ځم په تیږو ولم زیارتونه

ږلی د یار له لوري راغله
خلک ترې تښتي، زه یې مخې ته ورځمه

دوبی ته لاړ شه درهم راوړه
په دې کالدارو مې دادا نه درکوینه

ګل ته چې ګورم وطن یاد شي
تیره ازغي یې ګاونډیان رایادوینه

مورږ په نکریزو نه پوهیږو
څوک چې لاسونه سره کوي یار به لرینه

زړه مې له تا نه، نه صبریږي
له تاویزونو غاړه ډکه ګرزومه

ما درته وې کابل ته مه ځه
منې خورې دي، ما به هیره کړې مینه

سپرلې کې مه راځه خزانه
بورا به مړ شي، خون بې ستا له غاړې شینه

ته چې وړه وې ما لیدلې
اوس په پلو مخ پټوې چې پیغله شومه

زمورږ په کلې پسرلی دی
پوله په پوله شنه بنګړې مات شوي دینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په بل وطن مې پيرزو نه يي
که د سپايانو رسالې درپسې ځينه

زما قسمت د سالنګ غر دی
پر نورولمر وي پرما واورې ورونه

د شا اشرف ظالم د لاسه
د زړه له پاسه مې پولی ولاړې دینه

اوس د پيپسي خالي بوتل يم
نرى شمال مې ښکته پورته رغړوينه

د کرزي څه ښه پاچاهي وه
اشرف غني سړي کې غول ګنده کوينه

له تنه خوار دی خو هوښيار دی
په دې لغړ سر کې کاپر ماغزه لرينه

د غدارۍ فکر چې وکړم
په تولة شپه اشرف غني خوب کې راځينه

قربان، قربان د کرزي وخته
دا ستا له تخته به چاپيره تاويدمه

شاه اشرف څه کاني راوکړي
ما ولايت په پاچاهی نه ورکوونه

کله دې غم راباندې زور شي
کله دې مينه په درنو کاڼو تلمه

هجران دې اورراباندې بل کړ
د بمو مور ده په اچين يې اوروينه

بيله به يم بيله به ګرځم
بيله به ژاړم، بيلې اوښکې تويومه

د سپينې خولې مې ورته وويل
يو يې سوک راکړو دوې يې لوټې وويشتمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

زړګی مې شین لکه چمن دی
دا ستا غمونه د ښاروو په شان راځینه

په مادې ولې کوډې وکړې
نه دې د ځان کړم، نه دې بل ته پرېښودمه

زه په ښکاره ژړلای نه شم
د پیاز پوټکي اړوم غمونه خورمه

که زما خپل جانان سړی وای
زه به د بل یاري ته نه مجبورېدمه

ښه ده چې مړه دربانډې نه یم
ستا لباسي خندا له هر چا سره وینه

په شوروي ټوپک مې وله
داسې خو مه وایه چې خوله نه درکومه

د دوه دیرشمي برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ